# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۴۰۰ د غبرګولي درېيمه | د ۲۰۲۱ د مې ۲۴مه | ۷۲۰مه ګڼه


## کاروبار

۴ مخ

### ډېل کمپنی

ډېل کمپنی کمپیوټر جوړوي او بیا يې مستقیم د انټرنېټ له لارې پلوري. کلنی پلور يې تر ۵٦ میلیاردو ډالرو اوړي. تر اويا زره ډېر کارکوونکي کار ورسره کوي او د نړۍ په ۵۰ هېوادونو کې ۸۴ استازولۍ لري.




# د رواني جګړې غندنه؛

## حامد کرزی: پاکستان او امریکا په ګډه د شل کلنې خونړۍ جګړې تر شا دي



© Reuters/Omar Sobhani

۳

### سوداګرۍ وزارت: د هرات د طبي بوټو د صادراتو کلنی اندازه ۴۰ میلیونه ډالرو ته لوړه شوې




د سوداګرۍ وزارت چارواکي وايي چې د هرات ولایت د طبي بوټو په صادراتو کې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی. د یاد وزارت ویاند فواد احمدي زیاتوي، د هغې احصایې له مخې چې د هرات د سوداګرۍ او پانګونې خونې له خوا ترسره شوې، په ۱۳۹۹ کال کې له دغه ولایت د طبي بوټو د صادراتو کچه د تېر کال پرتله ډېره شوې ده.

د احصایې له مخې، په ۱۳۸۸ لمریز کال کې له هرات ولایت څخه د طبي بوټو صادرات نږدې شل زره ټنو ته رسېدل چې ۲۱ میلیونه امریکایي ډالر ارزښت يې درلود، خو په ۱۳۹۹ لمریز کال کې د دغو بوټو صادرات ۳٦زره ټنه ته لوړ شوي چې ۴۰ میلیونه امریکایي ډالر ارزښت لري.

په یادو طبي بوټو کې توره او سپينه زيره، کُنځلې، خاکشیر، د ريحان تخم او نورې طبي ګیاوې او بوټي شامل دي، چې ډېری يې ترکیې، هند اروپایي او عربي هېوادونو ته صادرېږي.

### په سیمه کې د امریکایي ځواکونو پاتې کېدل څه پیغام لري؟

۲ مخ

### افغانستان؛ آینده چگونه خواهد بود؟

۲ مخ

### ولې له بریده زیاته ښښنه غواړو؟

۳ مخ

### د فساد له اوج سره همهاله؛ د پلټنې اداري رییسې له خپلې دندې استعفا کړې ده

وروسته له هغه چې په دې وروستیو کې پر حکومت د فساد تورونه ډېر شول، د پلټنې یا بازرس اداري رییسې غزال حارث له خپلې دندې استعفا کړې ده.

هغې ویلي، چې اوږده موده يې د پلټنې په اداره کې د فساد پر وړاندې مبارزې ته ادامه ورکړه، خو په وینا يې، په افغانستان کې له فساد سره د مبارزې چاره سخته ده او نوموړې دوه ځله خپله استعفا ولسمشر ته استولې، خو نه ده منظوره شوې. هغې هیله څرګنده کړې چې افغانستان په نږدې راتلونکې کې د فساد پر وړاندې د مبارزې په برخه کې یو واحد لیدلوری ولري.

د پلټنې اداري مشره داسې مهال له خپلې دندې استعفا کوي، چې په دې وروستیو کې پر حکومت د فساد تورونه ډېر شوي دي. په ورته مهال د افغانستان پر روڼتیا د ښار بنسټ او د ولسي جرګې ځینو غړو په وروستیو کې ادعا کړې، چې فساد په پلان شوې او سیستماتیکه توګه روان دی او لوړپوړي حکومتي چارواکي پکې ښکېل دي.

په ورته مهال پر کور دننه سربېره، ځینو نړیوالو ادارو هم په افغانستان کې د روان پراخ فساد له کبله اندېښنه څرګنده کړې، خو افغان حکومت بیا وايي چې دوی له فساد سره د مبارزې په برخه کې جدي اراده لري او په دې تړاو يې ځینې اقدامات هم کړي دي.

### نبیل: طالبان د اقتصادي شریانونو د کنټرول هڅه کوي، خو حکومت پر ناسمو سیاسي معاملو بوخت دی



۵ مخ

### سناتوران: برای سومین‌بار مسؤولان امنیتی فراخوان مشرانو جرگه را رد کردند



مشرانو جرگه دیروز مسؤولان امنیتی را برای وضاحت دربارۀ بیشترشدن ناامنی‌ها و افتادن مرکزهای شماری از ولسوالی‌ها بدست طالبان فراخوانده بود، اما مسؤولان امنیتی به این جرگه نیامدند.


اعضای مشرانو جرگه می‌گویند که در یک ماه اخیر این سومین‌بار است که مسؤولان امنیتی برای پاسخ‌گویی به مجلس سنا حاضر نمی‌شوند. سناتوران می‌گویند که مسؤولان نهادهای امنیتی با این‌گونه برخورد شان به جایگاه شورای ملی بی‌حرمتی می‌کنند.

فضل هادی مسلمیار، رئیس مشرانو جرگه گفت: «از شورای امنیت تماس گرفته بودند که جلالتماب رئیس‌جمهور از ساعت ده تا دو بجه پس از چاشت با مسؤولان امنیتی دربارۀ لغمان و بعضی ولایت‌هایی که تهدید جدی دارند، هدایت‌های جدی دارند و بعضی از دوستان را شب وظیفه سپرده که به ولایت‌ها بروند.» هاشم الکوزی، رئیس کمیسیون دفاعی مشرانو جرگه نیز بیان داشت: «به‌علت بی‌کفایتی این مسؤولان... سربازان ما جان‌های شان را ازدست می‌دهند.»

این در حالی است که نبردها در کشور شدت گرفته‌اند و در هفته‌های اخیر بخش‌هایی از چندین ولسوالی کشور بدست طالبان افتاده‌اند.

به باور سناتوران نبود مدیریت درست، نرسانیدن امکانات به موقع به نظامیانی که در میدان‌های جنگ استند و نیز فساد گسترده در نهادها سبب ازدست رفتن پاسگاه‌ها و حتا سقوط ولسوالی‌ها به دست دشمن شده‌اند.


## فروش خانه رهایشی



خانه رهایشی به مساحت {896 متر مربع} واقع {ناحیه 11 لیسه مریم، کابل -افغانستان} به قیمت مناسب به فروش رسانیده میشود. ضرورت مندان و اشخاصیکه خواهان خریداری آن باشد به شماره تلیفون های ذیل تماس گرفته معلومات اخذ نمایند.

+93 (0)797888154 / +93 (0)798888802

## سرلیکنه

### په سیمه کې د امریکایي ځواکونو پاتې کېدل څه پیغام لري؟

له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو د وتلو لړۍ روانه ده، خو ورسره هممهاله داسې رپوټونه دي چې بهرني ځواکونه له سیمې څخه نه وځي، بلکې افغانستان ته نږدې ځای پر ځای کېږي. په ازبکستان او پاکستان کې د امریکایي اډو د جوړېدو رپوټونه خپاره شوي. که څه هم د دواړو هېوادونو چارواکو دا خبرونه رد کړي، خو په عملي ډول ډیورنډ فرضي کرښې ته څېرمه د پاکستان تر کنټرول لاندې سیمه کې د بهرنیو ځواکونو د ځای پر ځای کېدو لپاره ځینې تحرکات لیدل شوي دي. د پکتیکا د گومل ولسوالۍ سره څېرمه تر ډیورنډ کرښې هاخوا امریکایي ځواکونو د ځینو تاسیساتو د جوړولو کار پیل کړی دی.

په سیمه کې د امریکایي ځواکونو د پاتې کېدو مانا دا ده امریکا لا هم غواړي په دې سیمه کې د خپلو سیالانو د کنټرول او هغوی ته د ستونزو د جوړولو لپاره پاتې شي. امریکا غواړي له افغانستان او سیمې څخه د روسیې او چین پر ضد کار واخلي. اوس چې خبره د ډیورنډ کرښې ته څېرمه د امریکایي اډو کېږي، نو دا واضح کوي چې امریکا لا هم پر افغانستان او د پاکستان تر کنټرول لاندې افغان خاوره باندې تمرکز کوي. ډیورنډ کرښې ته څېرمه امریکایي اډې به نه یوازې په ټوله سیمه کې د ناکرارۍ لامل وي، بلکې دوی به له دې لاره غواړي چې افغانستان یو داسې حالت ته بوځي چې ټولې سیمې ته گواښ وي. له بله اړخه د دې شونتیا هم شته چې په دې سره به د پاکستان او چین اقتصادي دهلیز هم زیانمن شي او امریکا او چین به لا زیاتې جدي سیالۍ ته ننوځي. ستونزه دا ده چې دوی به له یو بل سره د سیالۍ لپاره بیا هم افغانان او افغان خاوره کاروي. د دوی د سیالۍ له امله به د افغان په کور کې او تر کرښې هاخوا د پښتنو په کورونو کې اور بل وي. په دې اور کې به پښتانه او په ټوله کې افغانان د امریکا د ملاتړو او مخالفینو دواړو په نومونو وژل کېږي، کورونه به یې ورانیږي او له لا زیاتو ستونزو سره به مخ کېږي.

اوس پکار ده چې په لر او بر کې ټول افغانان، د جگړې ټول اړخونه او مطرح سیاسي خوځښتونه دا دسیسې درک کړي. دوی باید پرې نه ږدي چې امریکایي ځواکونه په خپل حضور سره سیمه لا زیاته اور ته ور ټېل وهي. پکار ده چې په ټول شدت نه یوازې د اوسنۍ جگړې د ختمولو لپاره کار وشي، بلکې د راتلونکي بلېدونکي اور مخه هم ونیول شي. که څوک د دې راتلونکي گواښ ستروالی او ژوروالی درک کړي، نو پوهېږي چې که په هره قربانۍ وي، باید مخه یې ونیول شي. د افغان جگړې دواړه لوري دې نور دا جگړه پرېږدي، د امارت او جمهوریت تش شعارونه دې بند کړي. دوی ته پکار ده چې ژر تر ژره یو سیاسي توافق ته ورسېږي، یو نوی حکومت جوړ کړي او داسې گامونه واخلي چې د جگړې د دوام او یا یې یو بل پړاو ته د ننوتلو مخه ونیول شي. که د ښکېلو اړخونو اوسني دریځونه وي، نو موږ له یوې بلې نیابتي جگړې سره مخ کېږو او بیا به یې پړه مخامخ د دوی پر غاړه وي.

# افغانستان؛
## آینده چگونه خواهد بود؟

منبع: مادرن دیپلوماسی
نویسنده: پروفیسور هریش تاکور
مترجم: سیدجمال اخگر

افغانستان به دلیل بازی بزرگ، سیاست های جنگ سرد و رقابت میان قدرت های در حال ظهور آسیا یکی از بدترین کشورهای متاثر از عوامل جنگی است. تصمیم اخیر آمریکا مبنی بر خروج از افغانستان تا ۱۱ سپتامبر سال ۲۰۲۱، باعث شده تا گمانه زنی‌ها پیرامون بوجود آمدن هرج و مرج و روی کار آمدن حکومت تروریستی در کشور تقویت پیدا کند.

تقسیم هند نه تنها با پویایی سیاسی داخلی، بلکه با عوامل خارجی نیز صورت گرفت. «طرح چرچیل» که برای محافظت از منافع آینده انگلیس در شبه قاره هند، تقسیم این کشور را پیش بینی کرده بود، هنوز هم آثار باقیمانده آن زنده است. چرچیل می خواست به شکلی از اشکال تداوم تسلط انگلیس بر هند از طریق تقسیم شبه قاره به سه کشور مستقل تحت هژمونی بریتانیا را تضمین کند. علاوه بر هند و پاکستان وی گزینه ای «پرنسستان» را نیز در سر داشت. افغانستان به عنوان بخشی از «بازی بزرگ» در دوران پس از جنگ جهانی دوم، بیشترین آسیب را از جنگ سرد متحمل شد و هنوز برای ایجاد یک دولت آزاد، مسئولیت پذیر و عاری از کابوس جنگ داخلی تلاش می کند.

سیاست افغانستان طی ده ها بین نیروهای قبایلی و نهادهای سیاسی تقسیم شده است و عدم موفقیت در نهادهای سیاسی بی ثبات فضا را برای گروه های قبیله ای، سازمان های اسلامی و جنگ سالاران محلی فراهم می کند تا قدرت دولت را به خطر اندازند.

تجزیه اتحاد جماهیر شوروی سوسیالیستی در جهان پراکنده‌تر منجر به احیای مجدد قدرت های جهانی و منطقه ای در آسیای میانه و افغانستان که ارتباط قابل توجهی با شبه قاره هند، چین، روسیه و مخازن منابع طبیعی آسیای میانه فراهم می کند، شد.

پیشینه ای تاریخی وضعیت کنونی

از زمان سقوط رژیم شاهی در سال ۱۹۷۳ و دوره موقت بی ثباتی سیاسی که منجر به ترور رهبران افغانستان مانند، محمد داوود خان و خانواده اش، نورمحمد ترکی و حفیظ الله امین و سقوط افغانستان در سال ۱۹۷۹ تحت حمایت شوروی به دست کمونیست ها شد. در سال ۱۹۹۲ با استعفا و ترور رئیس جمهور داکتر نجیب الله چندین مراکز قدرت ظهور کرده اند.

چندین گروه قومی که بیشتر آنها سنی ها و سایر اقلیت های کوچک بودند برای بدست گرفتن قدرت علیه کمونیست ها و در دوران پس از نجیب ظهور کردند. طالبان که توسط ملا محمد عمر فرمانده متعصب که به گفته کارل هیلنبراند از میان مجاهدین تحت حمایت ایالات متحده، سعودی و پاکستان برخاسته بود و قدرت را در سال ۱۹۹۶ از برهان الدین ربانی (که تهداب حکومت اسلامی را نهاده بود) و حدود سه چهارم خاک افغانستان را درکنترل داشت گرفت تا این که در سال ۲۰۰۱ نیروهای ائتلاف ایالات متحده پس از ۱۱ سپتامبر در تلاش برای ایجاد یک حکومت دموکراتیک آنها را خلع قدرت کرد.

حکومت طالبان اگرچه فقط توسط پاکستان، عربستان سعودی و امارات متحده عربی به رسمیت شناخته شد، اما به دلیل سیاست های قهقرایی و عقب گرا این گروه بدترین مرحله از سال ۱۹۹۶ تا ۲۰۰۱ در تاریخ افغانستان بوده است که با مخالفت جبهه متحد شمال مواجه شد. این گروه که در سال ۲۰۰۱ تقریباً ۹۰ در صد کشور را در کنترل داشتند هرگز از سوی سازمان ملل و سازمان همکاری های اسلامی به رسمیت شناخته نشد. اتحاد شمال که باقی مناطق را در دست داشتند، جبهه متحد اسلامی برای نجات افغانستان مشمول گروه از رهبران مانند رئیس جمهور پیشین برهان الدین ربانی، وزیر دفاع پیشین احمدشاه مسعود و رهبران چندین گروه های قومی مانند کریم خلیلی، عبدالرشید دوستم، عبدالله عبدالله، محمد محقق، عبدالقدیر، آصف محسنی و دیگران را بر ضد طالبان تشکیل داد. پس از سقوط حکومت طالبان یک دولت انتقالی زیر نظر حامد کرزی کسی که در انتخابات سال ۲۰۰۴ برنده شد و تا سال ۲۰۱۴ حکومت کرد تاسیس شد، تا این که اشرف غنی رئیس جمهور فعلی جانشین کرزی شد، حکومت کرزی در امر مبارزه با فساد و کشت تولید مواد مخدر ناکام بود. شکوفایی دیموکراسی در افغانستان یک تحول خوشایند بوده و شورای ملی نمایندگان بنیادگرایان اسلامی، اصلاح طالبان، کمونیست ها و بسیاری از رهبران طالب خواه را در خود جای داده است.

بازگشت طالبان

از زمان دولت موقت ۲۰۰۱ تا ۲۰۲۱، طالبان قویتر شده اند و ایالات متحده از منافع خود دست کشیده و تصمیم به عقب نشینی دارد. از زمان حمله بر افغانستان در سال ۲۰۰۱، ایالات متحده ۲.۲۶ تریلیون دالر برای جنگ هزینه کرده است که شامل عملیات در خاک افغانستان و پاکستان می شود.

طالبان هنوز از سنگرهای مستحکم در ولایات شرقی و جنوبی افغانستان برخوردار هستند و سربازان آمریکایی که طی دو دهه جنگ بیش از ۲۴۴۲ تلفات جانی متحمل شد، نتوانست این گروه را سرکوب کنند و چاره‌ی نداشتند جز رفتن به میز مذاکره و حق دادن به طالبان در حکومت. (گزارش موسسه واتسون)

بستن مرز از نظر سیاسی دشوار است و مسئولیت آن عمدتاً متوجه ایالات متحده می شود. علاوه بر این از آنجایی که طالبان در تحرک هستند، این کار زمان می برد. تا زمانی که مرزهای افغانستان و پاکستان بروی شورشیان باز باشد، شکست طالبان حد اقل به ۱۰۰۰۰۰ هزار نیروی تازه نفس نیاز دارد. نه ایالات متحده و نه ناتو مایل و قادر به پرداخت چنین هزینه مالی هستند، بنابرین خروج راحت نیروهای امریکایی علامت بازگشت طالبان است.

نهادهای دموکراتیک و مسئله مشروعیت

از سال ۲۰۰۴ دموکراسی در افغانستان نتوانست مشروعیت خود را بدست آورد و دوره های آزمایشی آن در جنگ با شورشیان عقب گرا سپری شد. در حالی که دولت کرزی دو دوره موفقیت آمیز را به اتمام رساند و در یک پروژه بزرگ بازسازی شرکت کرد، به دلایل مختلف نتوانست از مشروعیت بخش های مختلف برخوردار شود. دولت غنی نیز از سال ۲۰۱۴ عملکرد متوسطی داشته است. دولت وحدت ملی تحت رهبری غنی نتوانست آنچه را که برای اتحاد همه گروه های قدرت در افغانستان وعده داده بود، درگیری ها را کاهش داده و در اوضاع نظامی ثبات ایجاد کرده و روند صلح با طالبان را آغاز کند.

رئیس جمهور اشرف غنی و عبدالله عبدالله تاکنون در تحقق اهداف خود تا کنون فایق نیامدند. دست آوردهای ارضی طالبان در ولایات کندز، فراه و غزنی وضعیت دولت غنی را به اندازه تضعیف کرد که خود ایالات متحده دولت افغانستان را برای رسیدن به توافق با طالبان در فبروری سال ۲۰۲۰ دور زد. به عنوان بخشی از این توافق، ایالات متحده متعهد به خروج کامل نیروهای بین المللی شد و طالبان قول دادند که از استفاده گروه های دیگر مانند القاعده از خاک افغانستان علیه ایالات متحده که نگرانی عمده امریکا است جلوگیری کنند. رئیس جمهور جو بایدن برای این که روی حرف باشد در اپریل سال ۲۰۲۱ اعلام کرد که همه نیروهای امریکایی تا ۱۱ سپتامبر این سال از افغانستان بیرون می شوند. متحدین ناتو گفتند ما هم چنین میکنیم و همین اکنون در حال ترک افغانستان هستند. پنتاگون گفته است که در ماه های گذشته حدود ۲۵۰۰ سرباز آمریکایی در آنجا حضور داشتند و جنرال میلی در مصاحبه ای گفت که در صورت شمارش نیروهای عملیات ویژه، تعداد کل آنها به ۳۳۰۰ نفر می رسد. فرماندهان نظامی احساس می کنند برای عقب نشینی مطمن، نیروهای اضافی به طور موقت برای کمک به امنیت و تدارکات وارد می شوند. (گاردین)

با این حال، با شروع عقب نشینی نیروهای آمریکایی، طالبان با هدف قرار دادن نیروهای دولتی که برای جنگ با طالبان باقی مانده اند، فشارهای خود را افزایش داده اند.

مشاوره آنتونی بلینکن وزیر امور خارجه ایالات متحده در مارچ سال ۲۰۲۱ به دولت افغانستان در مورد تشکیل جبهه متحد و تلاش های دیپلوماتیک برنامه ریزی شده برای مذاکره صلح و تشکیل «دولت موقت انتقالی» همانطور که در سال ۲۰۰۱ اتفاق افتاد با رد رئیس جمهور غنی روبرو شد. در واقع وی یک طرح ضد آتش بس را به طالبان فرستاد و از آنها خواست در انتخابات شرکت کند و وعده برگزاری زود هنگام انتخابات را نیز داد. چالش اصلی مذاکره، ماهیت دولت آینده است. دولت خواهان تقویت نهادهای دموکراتیک است و طالبان به دنبال یک حکومت مبتنی بر شریعت و قوانین اسلامی است که افغان ها از آن در هراس اند، به ویژه زنان که رویه این گروه را در دوره قبلی حکومت طالبان به یاد می آورند.

افغانستان؛ عقب نشینی ایالات متحده، هند و احتمالات آینده

تصمیم عقب نشینی ایالات متحده توافق نامه سال ۱۹۸۸ بین ایالات متحده، پاکستان، افغانستان و اتحاد جماهیر شوروی سوسیالیستی را به یاد می آورد که شوروی تعهد کرد که نیروهای خود را بیرون می کند (خروج در سال ۱۹۸۹ تکمیل شد) تا افغانستان بتواند مستقلانه به دموکراسی برگردد.

با این حال گروه های مختلف شورشی به همراه چندین نیروی باغی دولتی در اپریل سال ۱۹۹۲ کابل را تصرف کرده و حکومت رئیس جمهور نجیب الله را سرنگون کردند، درنتیجه افغانستان وارد یک جنگ داخلی طولانی شد. این همچنین یادآوری عدم موفقیت ایالات متحده در مقاومت در برابر جنگ های طولانی تر است، زیرا طالبان به «ویت کنگ» دیگری برای آنها مبدل شده است. عقب نشینی نیروهای آمریکایی چندین مورد را در بر می گیرد: دموکراسی توسط طالبان از بین می رود و افغانستان یکبار دیگر به میدان رقابت قدرت های منطقه ای مانند دهه هشتاد مبدل می شود که این بار روسیه در کنار طالبان که قبلاً توسط امریکا، پاکستان و سعودی بوجود امده بود، قرار خواهد گرفت.

درک روس و چین در مورد ابتکار «کمربند ویک جاده» و آسیای جنوبی که به نظر می رسد پاکستان یکی از شرکای مهم آن است، نقش هند را محروم می کند. هند نقش بسزایی در بازسازی کشور جنگ زده افغانستان داشته است، اما حضور آن به مزاج پاکستان، چین و روسیه خوش نمی خورد.

در حالی که روسیه و ایران طالبان را در برابر نقش ایالات متحده و هند در مذاکرات آینده افغانستان تقویت می کرد، اخیراً به احتمال زیاد در اثر فشار چین و پاکستان از جانب روسیه نادیده گرفته شده است.

یکی دیگر از مواردی که به نفع آمریکا نبود، مخالفت هند با دولت موقت که ایالات متحده پیشنهاد کرده بود است. هند ازین نگران است که اگر طالبان در افغانستان به قدرت برسند، ممکن مانند گذشته در کشمیر مشکل ایجاد کنند. با این حال، ابتکار اخیر ایالات متحده در مارچ سال ۲۰۲۱ هنگامی که وزیر بلینکن به هیئت شش عضوی از وزرای خارجه چین، هند، ایران، پاکستان، روسیه و ایالات متحده تحت نظر سازمان ملل متحد پیشنهاد داد تا «رویکرد واحدی» برای صلح ایجاد کند، هند را به میز مذاکره ارمغان می آورد که قطعاً به حفظ منافع آن در افغانستان کمک می کند. (دی هندو)

برای هند وقت آن است که تدابیر پیشگیرانه غرض جلوگیری از نفوذ تروریزم به این کشور اتخاذ کند. تقویت صفوف نیروهای امنیتی دولت افغانستان به شمول احیای «اتحاد جدید امنیت ملی» با شرکت چهره های ضد طالبان علیه ۷۰۰۰۰ نیروی آنها، نیاز به زمان دارد.

## اوچا: په تېرو څلورو میاشتو کې د جگړو له کبله ۱۰۰ زره افغانان بې ځایه شوي

په افغانستان کې د ملگرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ دفتر یا اوچا وایي، د روان کال په لومړیو څلورو میاشتو کې په دغه هېواد کې ۱۰۰زره کسان د جگړو له امله بېځایه شوي دي.

اوچا دغه راز زیاتوي چې یاد کسان د جگړو او بې وزلۍ له امله بېځایه شوي او په خبره یې، د هېواد په بېلابېلو سیمو کې خواره شوي دي. د راپور پر اساس، دغه کسان په کندهار، هلمند، زابل، نیمروز، فراه، هرات، بادغیس، غور، ارزگان، ننگرهار، کونړ، لغمان، پروان، پنجشېر، بغلان، سمنگان، بلخ، جوزجان، بدخشان، کندز او تخار ولایتونو کې بېځایه شوي دي.

اوچا همدا راز وایي چې د بېځایه شوو کسانو ۲۰ سلنه یې نارینه، ۲۱ سلنې ښځې او پاتې ۵۹ سلنه یې ماشومان جوړوي. په افغانستان کې د ملگرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ دفتر همدارنگه ویلي چې په دغه موده کې ۳۶۱زره افغان کډوال له ایران او ۴۸۰۰ یې له پاکستان څخه هم خپل هېواد ته راستانه شوي دي.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې د هېواد په ډېریو ولایتونو کې جگړو زور اخیستی او گڼ کسان د خپلو مېنو پرېښودو ته اړ شوي دي. د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت مطبوعاتي سلاکار عبدالباسط انصاري وایي چې د دوی د معلوماتو پر اساس، په تېرو دوو میاشتو کې په کندهار، بغلان، هلمند او ځینو نورو ولایتونو کې د جگړو له امله ۸۰۰۰ کورنۍ بېځایه شوي دي.

نوموړي زیاته کړه، چې دوی د نورو مرستندویه بنسټونو په همکارۍ زرگونو کورنیو ته مرستې رسولي او په وینا یې هڅه کوي چې پاتې بېځایه شوو کورنیو ته هم بشري مرستې ورسوي.

هغه پر ټولو بهرنیو او کورنیو مرستندویه بنسټونو غږ کړی چې کډوالو ته بېړنۍ مرستې ورسوي، ځکه د هغه په خبره، یاد کډوال اوسمهال د ژوند په سختو شرایطو کې ژوند کوي.

# آیا امریکا در نبرد افغانستان شکست خورده است؟

منبع: پولتیکو
نویسنده: آنی فوتمایر
مترجم: سیدجمال اخگر

در نوامبر سال ۲۰۰۹، در حالی که چند هفته به اعلام افزایش ۳۰۰۰۰ سربازان آمریکایی در افغانستان از سوی بارک اوباما، رئیس جمهور آمریکا و عقب نشینی نیروها از جنوری سال ۲۰۱۴، یک تیم از دیپلمات های نگران درکابل با هشدار طبقه بندی شده ی را به واشنگتن مخابره کرد. من به عنوان مشاور امور سیاسی سفارت آمریکا در کابل و یکی از آن دیپلمات های بودم که نگران افزایش نیرو و هم مهلت خروج انها بودند. ما به رئیس جمهور و مشاوران ارشد وی گفتیم که شرکای ما (حکومت افغانستان ) هنوز به اندازه کافی قوی و برای انجام ماموریت بیشتر آماده نیستند و اعلام صریح تاریخ عقب نشینی به طالبان انگیزه می دهد تا کوتاه نیایند و همکاری نکنند.

ما روش های متفاوتی را توصیه کردیم: با اعمال فشار با حفظ نیروی اندک در این کشور به دولت و مردم افغانستان فرصت دهید تا از خود محافظت کنند.

جزیات مخابره بزودی در رسانه ها درز کرد و باید بگویم که متاسفانه این هشدار بیش از حد قابل پیش بینی بود. استراتیژی افزایش نیروها انتظارات کاذب و بی صبری «پیروزی» از راه نظامی را که پیش بینی کرده بودیم، ایجاد کرد. اعلام مهلت عقب نشینی از افغانستان، به طالبان اعتماد به نفس بیشتری برای بازگشت به قدرت داد. این یک درس واضح را تایید کرد: هیچگاه ابزار اعمال فشار خود را تسلیم نکنید.

وقتی در سال ۲۰۱۷ به عنوان معاون رئیس مأموریت به کابل بازگشتم، اوضاع تا حدی به دلیل تغییر سیاست های آمریکا متحول شده بود. نیروهای آمریکایی دیگر در نقش رهبری جنگی نبودند و واگذاری مسئولیت ها به نیروهای دفاع ملی و امنیتی افغانستان را آغاز کرده بودند. عقب نشینی برنامه ریزی شده دولت اوباما و همچنین سخنان عقب نشینی دونالد ترامپ در جریان مبارزات انتخاباتی، طالبان را جرائت بخشید.

با این حال، بررسی های دولت ترامپ منجر به اعلام «استراتژی آسیای جنوبی» در اگست سال ۲۰۱۷ با ظرافت بیشتری شد، که خواستار حل و فصل اختلاف از طریق مذاکره بود. افغانستان به عنوان یک کشور رشد قابل توجهی کرده، دانشگاه های جدید اعمار شده بود و جوانان درراس ادارات مهم دولتی قرار گرفته و به آرامی جایگزین نسلی از رهبران جنگ شدند که در دهه ۱۹۸۰ و ۱۹۹۰ بطور وحشیانه ی با روس ها و سپس با همدیگر جنگیده بودند. روابط افغانستان با کشورهای منطقه در زمینه انتقال انرژی و فرصت های جدید تجاری توسعه پیدا کرده بود. فارمول جدید مصالحه مبتنی بر شرایط، روایت پیروزی قریب الوقوع طالبان را تعضیف کرد و حفظ جنگجویان خسته از جنگ را برای آنها دشوار کرد و برعکس به نیروهای دفاعی و امنیتی افغان که آسیب زیادی دیده بودند، قوت قلب بخشید. با وجودی افزایش حملات نیروهای افغان در زمستان ۲۰۱۷ و تشدید حملات وحشتناک طالبان در شهر کابل، زمینه پیشنهاد یک آتش بس دوجانبه به طالبان مساعد شد. جون سال ۲۰۱۸ بود که برای اولین بار و متاسفانه آخرین بار، افغانستان شاهد روزهای تعطیلات سه روزه عید صلح آمیز بود. برای بسیاری از ماه ها، فضای امید، افغانستان را که به خاطر تجارت، صنایع دستی، غذا و جشن های خانوادگی و نه انفجار و انتحار و تلفات شناخته می شود، به نمایش می گذارد. اکنون با تصمیم رئیس جمهور بایدن برای عقب نشینی بدون قید و شرط ۱۱ سپتامبر، امید چندانی برای آینده نورمال وجود ندارد و این یک تظاهر است که گویا ما به هدف جنگی خود که همانا: توسعه منافع امنیتی جهانی ایالات متحده را در جنوب آسیا با آموزش کافی نیروهای دفاعی و امنیتی افغانستان برای کنترل قلمرو خود در برابر تروریست‌ها و همسایگان غارتگر، رسیده ایم. ما ازین کشور خارج می شویم، ببینیم هرچه باداباد .

در حال حاضر، از دست دادن اهرم قدرت ما به نسبت سال پویای پسا سال ۲۰۰۹، اعتماد طالبان را افزایش می دهد. چندی پس از این که بایدن خروج نیروهایش را اعلام کرد، طالبان اعلام کردند که آنها در کنفرانس صلح در استانبول که ایالات متحده و سایر کشورها امیدوار بودند پس از این که مذاکرات دوحه به نتیجه نرسید این بار موفق شوند، شرکت نخواهند کرد .

روزی را به یاد میاورم که در مراسمی در کابل شرکت کردم که هر ۱۵ فبروری برای بزرگداشت عقب نشینی آخرین تانک های شوروی برگزار می شد. به سادگی می شود تصور کرد که اکنون طالبان خود را عامل شکست نیروهای خارجی دانسته، هر سال مشتاقانه ۱۱ سپتامبر را به عنوان تاریخ رسمی خروج نیروهای آمریکایی و ناتو جشن خواهند گرفت.

بایدن پیش از این تصمیم خود را برای عقب نشینی گرفته است و ما نباید انتظار داشته باشیم که او نظر خود را تغییر دهد. اما علی رغم اهرمی که سیاست جدید از دست داده است، هنوز برخی از آنها برای کمک به جلوگیری از فاجعه باقی مانده است.

از دیدگاه اخلاقی و استراتژیک، کنار گذاشتن سیاسی افغانستان منطقی نیست. بدون حضور ایالات متحده و بدون هیچ گونه شرط و وعده بازگشت، پیش بینی می شود که طالبان تلاش خواهند کرد تا کنترل ارضی و سلطه حکومت دیکتاتوری خود را افزایش دهند و سایر افغانها مسلح شده و در مقابل آنها مقاومت می کنند. درگیری ها اثرات مخربی از خود بجا می گذارد: القاعده، داعش و گروه های تروریستی منطقه فرصت کافی برای تجدید سازمان بدست میاورند. همچنین بحران انسانی مهاجرت به سوی اردوگاه های که از سوی سازمان ملل تمویل می شود، افزایش می یابند .

ایالات متحده به جای صبر استراتژیک برای به نتیجه رساندن بازی پایان و اطمینان از شهرت ما به عنوان یک متحد در بخشی غیر دوستانه از جهان، از هرج و مرج منطقه ای دعوت می کند که به هر حال مجبور خواهیم شد با آن کنار بیاییم (و هزینه آن را پرداخت کنیم). پس از خروج نیروهای ما و بسیاری از پرسنل پشتیبانی آمریکایی تا ۱۱ سپتامبر، ایالات متحده نباید اعلام کند که کار آنها با افغانستان تمام شده است. خروج ما از افغانستان پیامدهای بدی برای مردم افغانستان که ما آنها را به آینده‌ی ترسناکی محکوم کرده ایم، خواهد داشت. دور شدن به ما مجوز نمی دهد که از اتفاقات بعدی چشم پوشی کنیم. بعد از عقب نشینی نیروها برای درگیر ماندن در مسائل افغانستان راه های زیادی وجود دارد.

۱- اولین و مهمترین موضوع، ادامه کمک ایالات متحده به نیروهای امنیتی و دفاعی افغانستان است. تعهد ما در قبال این نیروها که اخیراً در کنفرانس وزرای دفاع ناتو انجام شد، باید کاملاً به قوت خود باقی بماند.

این بهترین راه برای خنثی کردن مزیت روانی است که ما به طالبان برای حمایت از حقوق زنان و سایر اقلیت های آسیب پذیر و جلوگیری از جنایاتی که در یک محیط غیر قانونی ظاهر می شود، داده ایم.

۲- تحریم های سازمان ملل، ایالات متحده و اروپا علیه رهبری طالبان باید تا زمانی که طالبان و دیگر بازیگران بد رفتار خود را تغییر ندهند، به ویژه تا زمانی که دیگر «تهدیدی برای امنیت و ثبات افغانستان» نباشند، پابرجا بمانند.

در واقع، ما باید تحریم های جدید و با دقت هدفمند را علیه کسانی که از حمایت از گفتگوهای صلح امتناع می ورزند، در نظر بگیریم.

۳- ما همچنین باید از اهرم فشار شدید دیپلماتیک برای همسایگان افغانستان، به ویژه پاکستان و آسیای میانه استفاده کنیم، تا روابط تجاری و انرژی موجود خود را برای یک روند صلح که به شگوفایی منطقه کمک می کند، در اولویت قرار دهند .

کشورهای حوزه خلیج فارس و سایر حامیان پیشین و فعلی طالبان باید بدانند که هدف اصلی دولت آمریکا یک نتیجه صلح آمیز است.

۴- کنگره باید دولت را در این زمینه متعهد کند، که مانند دهه ۱۹۹۰، در صورت انکار طالبان از حقوق اساسی بشر برای شهروندان این کشور آنها را از نظر دیپلماتیک به رسمیت نشناسد.

سرانجام، برخی از کمک های توسعه‌ای آمریکا برای رهبران اقشار آسیب پذیر که از اثر اقدامات بد آنها مردم رنج میبرند مشروط و یا هم قطع شود.

بیرون کشیدن بدون قید و شرط نیروها یا باقی ماندن «در جنگ» به طور نامحدود تنها دو گزینه نیست و هرگز نخواهد بود. در هشداریه ۲۰۰۹ کابل که ما اشاره کردیم مبارزه با فساد و توسعه طولانی مدت سرمایه گذاری بهتری نسبت به تعداد بیشتری از نیروها بوده است.

اکنون ایالات متحده به جای اینکه اشتباهات گذشته ما را تشدید کند، باید با حفظ اهرم قدرت باقی مانده ما و استفاده مناسب از آن ، به هدف ثبات متعهد شود.

# د رواني جگړې غندنه؛

## حامد کرزی: پاکستان او امریکا په گډه د شل کلنې خونړۍ جگړې تر شا دي

پخواني ولسمشر حامد کرزي په هېواد کې د رواني خونړۍ جگړې پړه یو ځل بیا پر پاکستان او امریکا اچولې ده. هغه له شپېگل ورځپاڼې سره په خپله مرکه کې ویلي چې امریکا په افغانستان کې په مستقیمه یا غیر مستقیمه توگه د جگړې له دواړو لورو ملاتړ کړی چې په پایله کې یې تر ټولو ډېره مرگ ژوبله ملکي افغانانو ته اوښتې ده. هغه ټینگار کړی چې د افغان جگړې د پای ته رسولو لپاره باید امریکا او پاکستان په گډه له صداقت کار واخلي او تر څنگ یې دې طالبان د پردیو د گټو لپاره روانه کړې جگړه پای ته ورسوي.

وروسته له هغې چې امریکایي ځواکونو تر جگړې مخکې له افغانستان د سرتېرو ایستل پیل کړل، په اړه یې ډول ډولې تبصرې خپرې شوې دي. پخواني ولسمشر حامد کرزي هم په همدې لړ کې له شپېگل ورځپاڼې سره په خپله تازه مرکه کې ویلي چې په اصل کې امریکا او پاکستان دواړه په افغانستان کې د رواني خونړۍ او نیابتي جگړې تر شا دي. د ده په خبره، امریکا پاکستان ته پیسې ورکولې، مرستې یې ورسره کولې، په داسې حال کې چې دغه هېواد په سیمه کې د ترهگرو ډلو او طالبانو ستر مالي او نظامي ملاتړی بلل کېږي. د ده په خبره، د امریکا مخکینې ولسمشر پخپله ویلي چې پاکستان ته یې میلیاردونه ډالر ورکړي او دا پیسې یې ټولې په تېرو ۱۹ کلونو کې دغه هېواد ته ورکړې دي. پخواني ولسمشر حامد کرزي ویلي چې پاکستان په تېرو شاوخوا ۲۰ کلونو کې په افغانستان کې د جگړې تر شا دی او نن هم همدې چارې ته ادامه ورکوي، خو افغانان بیا هم له دوی د صداقت تمه لري. هغه په خپلو خبرو کې ویلي، د افغانستان جغرافیایي موقعیت ته په کتو د سیمې هېوادونه دلته خپلې موخې لري چې پاکستان هم دلته د خپلو ځینو گټو خوندي کول غواړي. د ده په خبره، پاکستان غواړي د وسله والو ډلو د ملاتړ له لارې خپلو موخو ته ورسېږي، خو دا چاره یې ناکامه ده او افغانان یې پر وړاندې مقاومت ته ادامه ورکوي. د ده په خبره: «پاکستان هم خپلې گټې لري. موږ ورسره د ښه گاونډي په توگه پاتې کېدلی شو، خو دغه هېواد غواړي خپلې موخې د جگړو او بمونو د رالېږلو له لارې ترلاسه کړي، نړیوال باید دې مسئلې ته متوجه وي، خو افغانان به په دې توگه تسلیم نه شي».

پخواني ولسمشر حامد کرزي همدا راز ویلي چې د بهرنیو ځواکونو تر وتلو وروسته په افغانستان کې رواني جگړې ته د جهاد نوم او یا بل اسلامي رنگ ورکول په کار نه دي، ځکه دا د افغانانو پر وړاندې جگړه ده او ددې اړتیا ده چې د پردیو د گټو لپاره روانه کړې جگړه ارو مرو پای ته ورسول شي. نوموړي پر طالبانو غږ وکړ، چې له افغان حکومت سره خبرو ته کېني او د پردیو د گټو لپاره دې جگړه نه کوي، بلکې د خپل ولس د خوندیتوب لپاره دې د سولې لار خپله کړي. د ده په خبره: «د بهرنیو ځواکونو تر وتلو وروسته دلته جگړه جهاد نه دی، بل اسلامي رنگ دې نه ورکول کېږي. دا د پردیو د گټو لپاره روانه شوې نیابتي جگړه ده. باید پای ته ورسول شي».

ښاغلي کرزي د یوې پوښتنې په ځواب کې دا هم ویلي چې دا د افغانانو جگړه نه ده، بلکې د افغانانو پر ضد روانه ده او د سیمې هېوادونه افغانان د یو بل پر ضد استعمالوي. د ده په خبره «دا زموږ جگړه نه ده. بلکې موږ د یو بل پر وړاندې کارول کېږو. دا د پردیو جگړه ده».

پخواني ولسمشر همدا راز په خپلو خبرو کې ویلي چې د سولې په برخه کې د سیمې د هېوادونو رښتینې همکاري اړینه ده. هغه په مسکو کې د ترویکا وروستۍ غونډې ته په اشارې ویلي چې د سیمې هېوادونه دې له افغانانو سره د رواني جگړې په پای ته رسولو کې رښتینې او هر اړخیزه همکاري وکړي، څو ټولې سیمې ته ثبات راشي او هېوادونه د یو بل پر وړاندې د دسیسو پر ځای سره همکار او ملگري پاتې شي.

## ملگري ملتونه:

# د غزې په ۱۱ ورځنۍ جگړه کې ۱۷زره استوگنځایونه ویجاړ شوي دي

ملگري ملتونه وایي، اوسمهال نږدې ۸۰۰ زره کسانو ته په غزې تړانگه کې په منظم ډول پاکې اوبه نه رسېږي؛ ځکه د جگړو له کبله د اوبو رسولو شبکې ۵۰ سلنه زیانمنې شوې دي.

د اسوشیټېډ پرېس خبري اژانس په حواله، د ملگرو ملتونو د بشري مرستو د همږغۍ ادارې د غزې د ټولنیزو چارو او کور جوړونې وزارت په حواله ویلي، چې د ۱۱ ورځنۍ جگړې له کبله ۱۷۰۰۰ استوگنځایونه او تجارتي مرکزونه یا زیانمن شوي یا هم ویجاړ شوي دي.

ملگرو ملتونو ویلي، ۷۶۹ استوگنځایونه او تجارتي مرکزونه د استوگنې او کارونې وړ نه دي، په ۲۵۸ نورو ودانیو کې نږدې ۱۰۴۲ نور واحدونه تخریب او نږدې ۱۴زره او ۵۳۸ نور واحدونه قسماً تخریب شوي دي.

ملگري ملتونه وایي، ۵۳ ښوونیز مرکزونه، ٦ روغتونونه، د لومړنۍ روغتیایي خارنې ۱۱ مرکزونه هم زیانمن شوي او په غزې تړانگه کې ښوونځي تړلي چې دغه کار ٦ لکه ماشومان اغېزمن کړي دي. خو یو فلسطیني چارواکي وایي، د لومړنیو ارزونو له مخې د اسراییل او فلسطیني ډلو ترمنځ په ۱۱ ورځنۍ جگړه کې شا اوخوا ۲۰۰۰ کورونه تخریب شوي دي.

په غزه کې د ټولنیزو چارو او ښار جوړونې وزارت مرستیال ناجي سرحان اسوشیټېډ پرېس خبري اژانس ته ویلي چې د جگړې له کبله تر ۱۵۰۰۰ پورې نور واحدونه قسماً ویجاړ شوي دي. د اژانس په حواله، اسراییل د غزې تړانگې پر گڼ مېشتو سیمو په سلگونو هوایي حملې وکړې چې د استوگنې، تجارتي او دولتي ودانۍ یې په نښه کړې.

راپورونه وایي، د دغو بریدونو موخه هغه ځایونه وو، چې د فلسطین حماس ډلې پکې دفترونه او منابع درلودل. بلخوا د غزې د پولیسو قوماندان محمود صلاح ویلي، چې د اسراییل له خوا ویشتل شوي شاوخوا ۳۰۰ راکټونه او ناچاودنه سرگلولې راټولې کړای شوي دي. د فلسطین چارواکي وایي، د ۱۱ ورځنۍ جگړې د مالي زیانونو اندازه تر ۱۵۰ میلیونو ډالرو پورې اټکل شوې، خو په دې تړاو ارزونې لا هم روانې دي.


د یادونې ده چې تېره جمعه د اسراییل او فلسطیني ډلې حماس ترمنځ مصر په منځگړیتوب اوربند نافذ شو او ورسره هغه ۱۱ ورځنۍ جگړه پای ته ورسېده چې په نتیجه کې یې څه باندې ۲۵۰ کسان ووژل شول چې د اژانسونو په حواله، ډېری یې فلسطینیان دي. په اسراییل کې هم د دوو ماشومانو په گډون د ۱۲ کسانو مړینه تایید شوې ده.

## د کتــاب خبـرې

# د جاسوسی پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### شپږمه برخه
### نوې لویه لوبه




سېنها: جنرال صېب تاسې په دې کې ښنگه راغلی، دې ته په پام سره چې تاسو هغوی ته په افغانستان کې ماتې ورکړې وه؟
دولت: پوتین او پاکستان په دې پوهېدلي دي چې په دې کاروبار کې دایمي ملگري او دښمنان نشته.
دوراني: دولت (ASD) لکه د قصه خوانی بازار د بغداد الف لیلا په کیسه ویلو کې ډېر مخکې دی. ناڅاپه ما هم تروبنیکوف د پگواش په یوه ناسته کې په آستانه کې ولید، هغې ته چې له بده مرغه دولت (ASD) نه و راغلی. د کابل د رژیم د استازي د ناراحتی سره سره تروبنیکوف د افغانستان، هند او پاکستان د موضوع په وخت کې د پاکستان له موقفه ملاتړ وکړ.
موږ په پاکستان کې د هند او شوروي تر منځ له پخوانیو حسابونو پرته په شته کېمیا پوهېدلو، زموږ چپیان (سره) لکه ابراهیم جلیس چې په مسکو کې یې راج کپور ته د ښنباک د یو ځای اخیستلو وړاندیز کړی و، په دې پوهېدل. راج کپور دا نه مني، هغه وایي چې په مسکو کې د خپلو فلمونو له وجې مشهوره ده او هلته ډېرې پیسې لري. اتفاقاً د هغه فلمونه په ایران کې له انقلاب مخکې او په افغانستان کې هم مینهوال لري او په رښتیا زموږ پر وړاندې له څو اړخونو کارول کېږي. ما پرتوی راج کپور ته په یوه روسی کښتی کې چې شمال لوري ته خوځېدله د یوه فلم د لېدلو بلنه ورکړه. هغه فلم د هغې د یوې سندرې لپاره نامتو و.
موږ د شوروي اتحاد سره کړکېچنې اړیکې درلودې، ځکه زموږ گټه زموږ په لوی گاونډي کې وه او موږ له غرب بلاک سره یو ځای شوو. په (٦٥)م کال کې د تاشکند په جگړه کې چې شوروي اتحاد یې مرستندوی و، خو وروسته موږ په (١٩٧١. ز) کال کې د چین او امریکا ترمنځ د پل حیثیت ولوبولو، پرته له شکه چې په دې جگړه کې روسان زموږ پر ضد وو.
په (١٩٧٩. ز) کال کې د افغانستان د اشغال په موده کې موږ یو د بل داسې ضد شوو، چې پخوا هېڅکله داسې نه وو شوي. کله چې دوی د اکسوس (نني آمو سیند) له لارې له افغانستانه ووتل او د دوی امپراتوري دړې وړې شوه، په طبیعي شکل د پاکستان ضد احساسات په داسې حال کې وو، چې موږ یې د پوځیانو په وتلو کې مرسته هم ورسره وکړه.
خو هېڅ هم د تل لپاره نه وي. مسکو بیا جوړ شو. له چین سره یې اړیکې جوړې کړې او پخوانی شانگهای پنځه یې ژوندی کړ، څو د نړۍ د یوازیني ځواک پر وړاندې تعادل رامنځته کړي. له( ١١/٩ ) وروسته، کله چې غرب له ډېرو متعهدینو سره په مرکزي آسیا خپره واچوله، دوی هم په سیمه کې ډېر متعهدین پیدا کړل. په منځنی ختیځ کې نور پرمختگونه هم د دې باعث شول، چې روسیه پاکستان ته مخه کړي او ISI دوی ته مثبت ځواب ورکړ. دا چې هند امریکا ته دومره نژدې دی، نو نشي کولای چې د پاکستان او روسیې اړیکې ټکنی کړي.
دا اړیکې په تېره لسیزه کې نورې هم پراخې شوې او زه یې د امتیاز ښتن یم. په مسکو کې په (٢٠١٢. ز) او (٢٠١٧. ز) کلونو کې د لویې پراختیا غوښتنې د کنفرانسونو په لړ کې، ما د لویې لوبې په هکله پریزینټیشن ورکړ. په خپل هماغه اول سفر کې پوه شوم چې زموږ دوه اړخیزې اړیکې مخ په ښه کېدو دي.
دولت: یو بل څه چې د روسانو لپاره مهم دي، هغه د کانگرس ملگرتیا ده. دا چې کانگرس ډېر وخت په هند کې واک درلود، نو ځکه له دوی سره دا یوه طبیعي ملگرتیا وه. دا چې اوس کانگرس مرکزي گوند دی، دوه اړخیزې اړیکې د گوند لپاره یو پیغام دی، چې چېرته تللي او د څه لپاره درېدلي دي.
دا مهمه نه ده چې مودي څومره لوی دی، روسان ورسره راحت نه دي. څه چې جنرال صېب وویل له امریکا سره زموږ د هستوي معاملې په څېر سمون لري. کمونیستانو یې ملاتړ ونکړ او سونیا گاندي تر ډېره په تمه وه، ځکه هغې نه غوښتل چې د هغوی پر ضد مقابله وکړي.
دې هر څه زموږ اړیکې اغېزمنې کړې. هند ښنگه کولای شي د پوتین په مغز کې ځان ته ځای پیدا کړي، پرته له دې چې ووایو دا به راحت اړیکې نه وي. دا ښکاره خبره ده.
دوراني: کله چې زه کنفرانسونو ته بللی شوی یم، یوازې په څلورو ځایونو کې داسې وو، چې ما خپله مېرمن راسره بېولی شوای. په (٢٠٠۴. ز)کال کې ډیلي ته، ځکه موږ نه غوښتل د تاج محل د لیدلو موقع له لاسه ورکړو. بیا په اردن کې آرام سمندر چېرته چې هغې په لومړي ځل له دولت سره ولیدل. په (٢٠١٦. ز)کال د سفیر په بلنه ازبکستان ته لاړو، هلته ورته یو ژباړونکی هم ورکړل شو. کېدای شي د دې لپاره به و، چې موږ تاریخي، ایدیولوژیکې او گډې گټې لرو او په وروستیو کې مو جیوپولیټیکې اړیکې جوړې کړې دي.
**دوام لري...**

# ډېل کمپنی

حشمت الله نوري




اوس ښایي په دې خبرو ډېر باوري وي چې واړه او نوي شرکتونه کولی شي ان ستر شرکتونه له گواښ سره مخ کړي او د هغوی د پرمختگ مخه ډپ کړي یا ورسره د سیالی ډگر ته را ودانگي او په دې توگه ډېر هغه څه تر لاسه کړي، چې ستر شرکتونه یې نه شي تر لاسه کولی. د دنیا د رقابت موضوع عجیب حالت ته اوښتې ده، هر څوک په دې رمز نه پوهېږي یو یو چې وربانډې پوه شي بیا د نورو له کلونو زحمتونو او هڅو ډېر مخکې کېدلی شي. ډېل هم له همداسې کمپنیو یوه ده، دا یوه وړه کمپنی وه، دومره تاریخ نه لري، یوازې درې لیسزې وړاندې جوړه شوې؛ خو د هغو کمپنیو پر وړاندې یې خنډونه جوړ کړي چې لسگونه کاله یې د ټکنالوژۍ په برخه کې فعالیت کړی، ان د ټکنالوژۍ بنسټگران یې بللی شو. دا شرکت د ۱۹ کلن ځوان په خلاقیت او جدیت په کار پیل وکړ، یوازې د زرو ډالرو په پانگونې پرانیستل شوی دی. ډېر ژر له دې لارې مشهور شو چې په انلاین توگه به یې کمپیوټرونه پلورل، په کمه موده کې د زرو ډالرو شرکت د میلیاردونو ډالرو په شرکت واوښت. اوس د میلیاردونو ډالرو پانگې په لرلو د نړۍ په ۱۵۰ هېوادونو کې استازولی لري.
ډېل کمپنی په ۱۹۸۴ کال کې جوړه شوې ده. بنسټ ایښودونکی یې مایکل ډېل دی. د فعالیتونه برخه یې د کمپیوټرونو د پروزو، کمپیوټرونو او د دوی تولید او پلور دی. دوی کمپیوټر جوړوي او بیا یې مستقیم د انټرنېټ له لارې پلوري. کلنی پلور یې تر ۵۶ میلیاردو ډالرو اوړي. تر اویا زره ډېر کارکوونکي کار ورسره کوي. د نړۍ په پنځسو هېوادونو کې ۸۴ استازولی لري. مالک او د مدیره هیئت مشر یې مایکل ډېل دی، عامل مدیر یې بیا کوین رولینز دی.
ډېل کمپنی د یوه ساده مفهوم پر بنسټ جوړه شوه، پر کاروونکو د کمپیوټر مستقیم پلور. سره له دې چې مایکل له ۱۹۸۴ کال مخکې په لومړي سر کې خپل کار د ورځپاڼو او نورو شیانو له پلور پیل کړی و، خو وروسته یې کار ته پراختیا ورکړه، ده به د زړو کمپیوټرونو پرزې بدلولې او په مرسته به یې کمپیوټرونه جوړول او هغه به یې پر مشتریانو پلورل. نوموړي غوښتل هر څه په مستقیمه توگه وپلوري، نو د همدې لپاره یې په انلاین نړۍ کې خدمات پیل کړل. هغه به ویل، هر څه باید د پلور له لارې پرته تر سره شي. نوموړی په دې باور و چې د محصولاتو لاس په لاس کېدل ستونزې جوړوي او مشتري هغه څه نه شي تر لاسه کولی چې تمه یې لري. د همدې لپاره یې په انلاین نړۍ کې پلور پیل کړ او کار یې هم گټور و. مینهوال یې هم ډېر شول، ځکه کتل به یې چې هر څه ښنگه دي، د کمپیوټر اصلیت څه دی، مشخصیات یې څه دي، قیمت یې څو دی او ښنگه یې تر لاسه کولی شي. همدا و چې ډېل کمپنی ورځ تر بلې پیاوړې کېده او مشتریان یې ډېرېدل.
ډېل شرکت په ۱۹۸۴ کال کې د ۱۰۰۰ ډالرو پانگې له لارې خپل کار پیل کړ او د تولید ډله یې یوازې درې کسه وه. دوی به د وړو میزونو شاوخوا ته ولاړ وو، هلته به یې زاړه کمپیوټرونه خلاصول، پرزې به یې بدلولې او نوي کولې به یې. یو کال وروسته دغه کمپنی په خپله طرحه یو کمپیوټر بازار ته وړاندې کړ. انټل پروسسر یې درلود او سرعت یې ۸ میگا هیرټزه و. دوه کاله وروسته د دغه شرکت بریا هغه وخت پیل شوه چې خپل دفتر یې په لندن کې پرانیست او په چټکۍ یې کارونه چین، فرانسې، جاپان او کاناډا ته هم وغځېدل.
په ۱۹۸۹ کال کې ډېل لومړنی لپ ټاپ کمپیوټر بازار ته وړاندې کړ. دوی هره ورځ د پرمختگ په حال کې و، مشتریان او مینهوال یې ډېرېدل، د کار کوونکو شمېر یې مخ پر لوړېدو و، مدیر یې مایکل ډل هڅه کوله چې خپل فعالیتونه پراخ کړي. له خپل تاسیس اته کاله وروسته یانې په ۱۹۹۲ کال کې ډېل په دې بریالی شو چې د نړۍ په غوره ۵۰۰ شرکتونو کې ځای پیدا کړي. تر ۱۹۹۷ کال پورې ډېل شرکت تر ۱۰ میلیونو پورې کمپیوټر پلورلي وو. د شلمې پېړۍ په پای کې دغې کمپنی په انلاین بڼه د ۵۰ میلیونو ډالرو په ارزښت پلور درلود. دغه شرکت د کمپیوټري کمپنی په مینځ کې یو ریکارډ ثبت کړ او هغه دا چې په کال کې یې یو میلیارد ډالره پلور هم درلودلی و. په دې وخت کې ډېل کمپنی سرورونه او پرنټرونه هم پلورلي وو. هېره دې نه وي چې د نړۍ تر ټولو قوي سرورونه اوس هم د ډېل کمپنی دي چې تر ټولو ډېر پلور لري او د نړۍ ستر بانکونه، شرکتونه، دولتي اداري او نور ارگانونه دغه سرورونه د خپلو کارونو لپاره کاروي.
ډل په همدې لیدلوري شرکت جوړ کړ، چې هر کاروونکي ته به مستقیم کمپیوټر رسوي. دوی غوښتل پر مشتري هغه څه وپلوري، چې دی یې غواړي. ۲۰ کاله وروسته موږ د ډېل کمپنی د دغه لیدلوري گټه وینو. دغه کمپنی اوس هم وایي غواړو د نړۍ په گوټ گوټ کې د کمپیوټرونو د تولید لومړی درجه کمپنی او د مشتریانو لپاره تر ټولو ښه تجربه موږ وو. مایکل اوس هم پر خپل دغه شعار ټینگار کوي:
ډېل په ډېر سرعت خپل فعالیتونه پراخ کړل، دوی هڅه وکړه چې له امریکا راووځي او په همدې ځای کې بندي پاتې نه شي. اوس د نړۍ په ۱۵۰ هېوادونو کې فعالې استازولی لري. دوی سرورونه، کمپیوټري حافظې، انځوریز او چاپي سیسټمونه، لپ ټاپونه، ډېسکټاپونه، شبکه یي محصولات، سافټ ویرونه او نور محصولات تولیدوي. مدیریتي خدمات او روزنیز خدمات هم تر سره کوي.
د شرکت لومړنی فکر همدا و چې د مشتري او تولید کوونکي تر منځ به واسطه له منځه وړو. په دې توگه نو دوی خپل محصولات ژر پلورل او په انلاین بڼه یې مشتریانو ته عرضه کول، دا کار اوس هم دوی کوي. گټه یې څه ده، که تاسې د کمپیوټر نورو کمپنیو ته وگورئ، محصولات یې لږ تر لږه ۳۰ ورځې په گدامونو کې پاتې کېږي او گردش کوي. د بېلگې په توگه، د کمپک کمپنی محصولاتو ٦۰ ورځې په گدامونو کې دوران درلود، خو د ډېل کمپنی محصولات یوازې څلور ورځې په گدام کې وي. په دې توگه دوی د ډېرو ذخیره کولو، ډېرو کارته پورته کولو او یا نورو کمپنیو ته د ویشلو او بیا د هغوی له لارې مشتریانو ته درسولو لړۍ ختمه کړې ده. ډېری ستر شرکتونه هم چې غواړي د ډېل د محصولاتو کاروبار وکړي، په انلاین بڼه محصولات اخلي او بیا یې له ځان سره ساتي، دوی تر نن پورې هم پر مشتریانو مستقیم او انلاین محصولات پلوري چې د بریا راز یې په همدې کې دی. مایکل ډېل بیا له همدې الگو په ډېرو کارونو کې کار اخیستی، نوموړي ان خپلو مدیرانو ته ویلي چې یوازې له شاوخوا کسانو سره مه گورئ. په دوی کې ځان مه محاصره کوئ. دی په خپله هم داسې کوي، د یوې موضوع په اړه له ډېرو سره غږېږي، هره شېبه یې له هر کارمند سره په اړیکه کې دی، هره دقیقه کوښښ کوي چې له کارکوونکو سره نږدې وي. هسک ټېټ کېږي، مستقیم هر کار تر سره کوي. هر څوک بې له کومې بهانې ان لکه خپل ملگري ته مایکل ډېل ته ورځي او خبرې ورسره کوي، خاندي ټوکې ټکالې کوي، خو خپل کار ته جدي او جدي دی.
ډېل کمپنی ځان ته ارزښتونه لري، یو ارزښت یې هماغه مستقیم موډل دی چې مخکې مو یاد کړ. د دغه کمپنی لپاره بل څه چې ارزښت لري او درناوی ورته لري، هغه مشتري دی. دوی له مشتري سره اړیکو لرلو او د هغه نظریاتو ته د درناوي لپاره ځان ژمن گڼي. دوی یو بل اصل لري او هغه نړیوالتوب دی. دوی وایي، د نړیوالو ارزښتونو او د هغوی فرهنگ ته باید درناوی وشي. بل اصل چې ډېل کمپنی ورته ژمنه ده، هغه ټیمي کار دی. ډېل کمپنی وایي، کار به مو هله بریالی وي چې ټیم مو بریالی جوړ کړی وي. هله به مو کار بریالی وي چې ټیم مو ښه روزلی وي او ټیم ته مو ښه فرصتونه برابر کړي وي. بل اصل چې ډېل لري هغه له ودې سره مینه ده. تاسې هغه کار وکړئ چې مینه ورسره لرئ او هغه کار وکړئ چې بریالي کوي مو، دا د ډېل کمپنی لخوا وضع شوي اصول او ارزښتونه دي.
ډېل کمپنی تل پر خپلو مشتریانو غږ کوي چې په خپل منځ کې دې متحد او یوه ټوټه وي. پر یو بل باور ولري. رښتیني وي، قضاوت یې پر ځای او موقع وي. قوي او شجاع وي او همدارنگه خپل مسوولیتونه ومني.
ډېل کمپنی د خپل کار محور خپل کارکوونکي بولي. دوی خپل هر کارکوونکی د خپل ټیم غړی بولي. د شرکت پیاوړتیا او قدرت یې د کارکوونکو په قوت کې نغښتی دی. د ډېل کمپنی هر کار کوونکی چې سهار کار ته راځي، د خپلې هغې ورځې په موخو خبر دی. دوی په یوه سم مسیر کې د تگ لپاره ژمن دي. تر اویا زر ډېر کارکوونکي یې ډېل کمپنی د خپل کور په څېر گڼي. له دې ډلې نیم یې له امریکا بهر د ډېل په استازولیو کې کار کوي.
په ډېل کې د نوښتونو بنسټ ډېر ساده دی. مشتري ته غوږ ونیسه، اړتیاوې یې واوره او بله ورځ یې رفع کړه. په دې تگلاره کې ټکنالوژي او نوښت د مشتري له اړتیاوو سره سم او پر هغه متمرکز دی. دا مشتري دی څو هغه څه انتخاب کړي چې ارزښت ورته لري. دوی هر څه مشتري ته راجع کوي. ډېل کمپنی وایي، هغه نوښت د احترام او درناوي وړ دی چې مشتري یې قبول کړي.
د دغې کمپنی مالک مایکل ډېل نومېږي، هغه په ۱۹۸۴ کال کې ۱۹ کلن و چې د ډېل کمپنی بنسټ یې کېښود، نوموړي مشتریانو ته د مستقیمو خدماتو د وړاندې کولو له لارې د پام وړ پرمختگ وکړ. هغه پوهنتون پرېښود او غوښتل یې تر آی بي ایم ښه کمپیوټر جوړ کړي. هغه غوښتل چې د کمپیوټرونو قیمت ټیټ کړي، څو هر څوک وکولی شي کمپیوټر ولري. هغه په دې پوهېده چې له پوهنتون پرته په نړۍ کې ډېر نور داسې فرصتونه شته، چې باید په اړه یې فکر وشي. له ۱۹۹۲ کال تر ډېرې مودې پورې د نړۍ په ۵۰۰ غوره شرکتونو کې مایکل تر ټولو ځوان مدیر و. هغه خپلې کمپنی او کاروبار ته ډېرې هڅې کړې او تر ټولو قوي مدیر پاتې شوی دی. ډېل کمپنی خپل راتلونکی داسې ترسیم کړی دی، چې نړیوالې ودې ته لاسرسی، د محصولاتو رهبري، د مشتري د تجربو د جذب لړۍ چټکول او د راتلونکي فرهنگ وده او پراختیا. ډېل کمپنی د نړۍ په گوټ گوټ کې مینهوال لري. سلگونه کسان یې له محصولاتو استفاده کوي. لکه مخکې مو چې هم یادونه وکړه، لپ ټاپونه، ډېسکټاپونه، سرورونه، ځانگړي چاپ ماشینونه، د کمپیوټر د اړتیا وړ توکي او پرزې تولیدوي. محصولات یې تر نورو کمپنیو نسبتاً ارزانه دي، نو ځکه یې مینهوال هم ډېر دي. دا ډېل کمپنی ده. سلگونه کسان دلته پر کار مصروف دي. دوی ته هر څه خپل کور غوندې ښکاري، وسایل، ملگري او ډېرې دوستانه اړیکې پالي. دلته د ډېل کمپنی ستره ودانی ورلاړه ده. زرگونه مشتریان او کار کوونکي له یو بل سره دلته مخامخ کېږي. د یو بل نظرونه اوري او کوښښ کوي چې ډېل کمپنی د دوی د خوښې شی جوړ کړي. دا کمپنی یو وخت یوازې یو دوکان و، چې هلته به زاړه کمپیوټرونه له سره رغول کېدل. دلته یوازې پرزې یو ځای کېدې او له هغو پرزو بل کمپیوټر جوړېدو، د کارکوونکو شمېر یې یوازې درې کسه و، څلور میزونه او څو کسان. خو اوس تر اویا زره ډېر کارکووونکي او هر کال میلیونونه کمپیوټر همدلته تولیدېږي. د نړۍ ډېرو خلکو ښایي له همدې ځایه د خپلې خوښې وړ کمپیوټر تر لاسه کړی وي.

اقتصاد

## د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۲ |
| € | ۹٤,٥ |
| Rp. | ٤۹۸ |
| ₹ | ۱۰۷٥ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۸,٥ |

## بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# ولې له بریده زیاته ښښنه غواړو؟

**ژباړه: عطامحمد میاخېل**

موږ ټول کله وخت په خپل ژوند کې له داسې شرایطو سره مخامخ کېږو، چې باید ښښنه وغواړو او له هماغه کوچنیوالي څخه را ښودل شوي دي، چې کله کوم ناسم کار تر سره کړو، نو باید ښښنه وغواړو؛ خو که هېڅ غلطي مو نه وي کړې څنګه؟ که یوازې ګناه مو دا وي، چې خپله واقعي څېره مو ښودلې وي، ځان ښودنه او تظاهر مو نه وي کړې، څنګه؟
کله وخت په ډېرې اسانۍ د هغو څیزونو په اړه، چې ښښنې غوښتلو او توضیحاتو ورکولو ته اړتیا نه لري، ښښنه غواړو او ډېری وخت هم ښښنه غوښتل پرته له دې، چې پوه شو په ناخبره توګه یې تر سره کوو، خو په حقیقت کې نباید داسې وي.
کله چې نوی کاروبار مې پیل کړ، څه موده وروسته مې دې ته پام شو، چې هر وخت د ښښنې غوښتلو په حال کې یم او دومره مې دا کار تر سره کاوه، چې داسې احساس مې کاوه، چې باید داسې ټي شرټ یا کمیس واغوندم، چې پرې لیکل شوي وي ښښنه غواړم. ما د لا ډېرو توضیحاتو او ټاکنو لپاره چې درلودې مې او دغه راز د هغو تصمیمونو لپاره، چې نیول مې او حتا یوازې د دې لپاره چې شتون ولرم، ښښنه مې غوښتله. پوهېږم چې یوازې زه نه یم او کولای شم تصور یې کړم، اوس چې دا لیکنه لولې، زما د خبرو د تایید لپاره خپل سر خوځوئ.
د دې لیکنې په دوام، په دې باندې رڼا اچوو چې د کومو دلیلونو له مخې له نورو څخه له بریده زیاته ښښنه غواړو او فکر کوو اړ یاست چې د خپلو کارونو په اړه نورو ته توضیحات ورکړی.

**د نه ډاډمنتیا احساس**

تر اوسه داسې پېښ شوي دي، چې داسې احساس وکړی اړیاست چې نورو ته توضیحات ورکړی؟ د بېلګې په توګه، ولې مو سینګار نه دی کړی؟ یا داسې پېښ شوي، چې د خپل فېټنېس له روزونکي څخه مو د دې لپاره ښښنه غوښتې وي، چې کوم حرکت مو په سمه توګه نه دی تر سره کړی؟ ښښنه غوښتل او توضیحات ورکول، ستاسو د نه ډاډمنتیا احساس او ستاسو دننني اندېښنې ته ورګرځي او دا څرګندوي، چې د هغه چاپېریال او شرایطو په اړه، چې پکې مېشت شوي یاست، د اندېښنې او خواشینۍ احساس کوی. ډېر سخت او ستونزمن کار دی، چې د هوساینې او ارامتیا احساس وکړی، په داسې حال کې چې پر خپل ځان باندې ډاډه نه یاست.

**د شخصیت کمزورتیا**

کله چې ډېره زیاته ښښنه غواړی، نو داسې سیګنالونه استوی، چې څرګندوي، د ارزښتمن اوسېدو احساس نه کوی او داسې فکر کوی، چې په یوه لیدنه کتنه یا خبرو اترو کې په کافي اندازه ښه نه یاست. نن له بده مرغه د ډېری کسانو د ژوند کیفیت د نورو له قضاوتونو او ناسمو معیارونو سره تړل شوی دی او هره ورځ له نورو سره د خپل ځان د پرتلنې په حال کې دي. دا کسان داسې تصور کوي که نورو ته ورته نه دي، نو باید له هغوی څخه ښښنه وغواړي او هغوی ته توضیحات ورکړي.
که څه هم د ښښنې غوښتلو ښې نښانې یوه عامه ستونزه ده، چې هرڅوک کولای شي تجربه یې کړي، خو په هغو کسانو کې ځینې ګډې ځانګړتیاوې شته، چې په پرله‌پسې توګه ښښنه غواړي:

**له بریده زیات یووالی او همغږي**

هغه کسان چې له بریده زیات د نورو احساساتو او غوښتنو ته ارزښت ورکوي، تر ډېره له نورو څخه د ښښنې غوښتلو په حال کې دي، په داسې حال کې چې واقعاً غلطي کوي.

**په اړیکو کې تسلیم اوسېدل**

هغه کسان چې په خپلو اړیکو کې له نورو څخه ډېره زیاته ښښنه غواړي، تر ډېره خپل مقابل لوري ته دا پیغام ورکوي چې د خپلو شخصي سرو کرښو یا فردي اړتیاوو د لرلو له امله د ګناه احساس کوي، نو پر دې اساس دې ته چمتو دي، چې مقابل لوری یې هرڅه ووایي، په سر سترګو یې ومني.

**له بریده زیات نرمښت او مهرباني**

که د سولې او ارامتیا ساتلو او دغه راز د شخړې او جګړې د مخنیوي لپاره اندېښمن او خواشیني واوسی، نو په احتمالي توګه له بریده زیاته ښښنه غواړی. په هر حال، تاسو غوره ګڼی چې ښځایه ښښنه وغواړی، تر دې چې بحث او مناظرې ته ننوځی.

**په ښساري انظباطي چاپېریال کې روزنه**

تاسو څه په یوه ډېر سخت او محدود ښوونیز چاپېریال کې روزل شوي او څه په داسې یوه کورنۍ کې روزل شوي وی، چې مور او پلار مو ډېر زیات قانوني او با ډیسیپلنه وو، نو خپله د ماشومتوب دوره مو په مبهمه وېره کې تېره کړې ده، چې دا وېره د دې سبب شوې، چې په پرله‌پسې ښښنې غوښتلو سره د دننني رضایت او خوښۍ احساس ته لاسرسی پیدا کړی.

**پرېشانه اوسېدل**

په دننه کې د ناکرارۍ له احساس سره ژوند کول، چې تل د نورو د خوښۍ او رضایت په لټه کې دی، د دې سبب ګرځي چې په ټولنیزو موقعیتونو او اړیکو کې له بریده زیات پرېشانه واوسئ او له ښځایه او پرله‌پسې ښښنې غوښتلو څخه د وسیلې په توګه د ځان د ارامه کولو لپاره کار واخلی.

**څنګه په باور او ډېر اعتبار سره ژوند وکړی؟**

له ښه مرغه تاسو کولای شی د خپل فکر بڼې ته بدلون ورکړئ، څو پر خپل ځان باندې په ډېر باور سره ژوند وکړئ، که څه هم دا کار اسانه نه دی، خو له روغتیا پال (ډاکټر) او مشاور څخه مرسته غوښتل کولای شي د کمزورتیاوو او د هغوی د له منځه وړلو لپاره یوه لاره وي. کله چې ستاسو ټول پام د نورو د خوشاله ساتلو په لور وي او له یوازیتوب او رټلو څخه وېرېږئ، نو ستاسو ژوند هغه ډول نه دی، له کوم سره چې مینه لری او خپلو غوښتنو ته ارزښت نه ورکوی.
په پایله کې اروايي روغتیا مو له ډېرو لورو تر اغېزې لاندې راځي. کله چې تل د وېرې په حال کې یاست، نو له اندېښنې او پرېشانۍ سره هم مخامخ کېږی او د ښه اوسېدلو احساس نه کوی. تل د نورو د خوشاله ساتلو لپاره هڅه، له ځان سره ښه احساس نه لري او پایله به یې ناهیلي، خواشیني او اندېښنه وي.
موږ ټول خپل ځانګړي لومړیتوبونه لرو او نباید دې لومړیتوبونو ته د ارزښت ورکولو له کبله بد احساس پیدا کړو، ستاسو ژوند په تاسو پورې تړلی دی او د ټولو کسانو لپاره کوم ځانګړی چوکاټ نه لري. که د خپلو ټاکنو په تړاو ښه احساس لری، نو باید هماغه کار وکړئ، چې خوشاله کوي مو، کله وخت انسانان تاسو نه درک کوي او دا کومه ستونزه نه ده. اجازه مه ورکوئ چې ټولنیزې رسنۍ او ټکنالوژي مو دې ته اړ کړي، چې د خپلو ټاکنو په تړاو نورو ته توضیحات ورکړئ، ځکه په دې کار سره خپل ځان د نورو قضاوت ته سپاری او کومه پایله چې تر لاسه کوی، پر ځان باندې نه باور، د نه خوندیتوب او پرېشانۍ احساس به وي. اوس څنګه کولای شی چې دا مات څرخ ودروی؟

**یوه ژوره ساه وباسئ او یو ګام شاته واخلئ**

مخکې تر دې چې خوله مو د ښښنې غوښتلو لپاره پرانیزی، نو یوه ژوره ساه وباسئ او مکث وکړئ. ایا واقعاً اړینه ده چې ښښنه وغواړی؟ ایا ستاسو تېروتنه د کوم چا د ځورېدو لامل شوې ده؟ ایا داسې کوم کار مو کړی دی، چې کوم چاته بد احساس ورکړی؟ یا دا چې یوازې له یوه بد احساس څخه د مخنیوي لپاره، غواړی ښښنه وغواړی؟ له ښښنې غوښتلو څخه مخکې یو ګام شاته اخیستل او مکث کول، د دې سبب ګرځي چې له خپل ځان سره دا مشخصه کړئ، چې ایا واقعاً توضیحاتو ورکولو او ښښنې غوښتلو ته اړتیا شته او که نه.

**خپل عصبي تحریک کوونکي وپېژنئ**

موږ ټول کمزوري ټکي یا حساسیتونه لرو، چې د دې سبب ګرځي څو غبرګون ښکاره کړو، ځینې کسان په سکوت او ښښنې غوښتلو سره غبرګون ښکاره کوي. که په دې باندې پوه شی چې کوم څیزونه مو اعصاب تحریکوي، کولای شی زده کړی، په آګاهانه توګه د هغو توپیري غبرګونونو په اړه، چې ښایي ښکاره یې کړئ، فکر وکړئ.

**خپلو خبرو او کلمو ته فکر وکړئ**

ښایي د هغو افرادو برخه وی، کله چې له تاسو څخه پوښتنه کېږي یا د لا روښتیا لپاره ښښنې غوښتلو او یا د ډېرو توضیحاتو ورکولو ته ځان اړ وګڼئ. د ښښنې غوښتلو پر ځای هڅه وکړی چې پوښتنه وکړی، حتا که د کوم څرګند څیز په اړه هم وي، هېڅ ستونزه نشته، چې د لا ډېرو جزیاتو غوښتنه وکړی یا پوښتنه وکړئ، چې په دې باندې ډاډه شی، چې د مقابل لوري موخې ته مو پام شوی دی او که نه.
له بده مرغه د ډېری کسانو لپاره ښښنه غوښتل په یوه عادت باندې بدل شوي دي او پرېښودل یې سخت او ستونزمن کار دی؛ له دې امله تمرین ته اړتیا لرو، څو ناسم عادت پرېږدو. که فکر کوی چې د احساساتو او تحریکوونکو څیزونو په اړه لیکل، له تاسو سره مرسته کوي او کولای شی پر خپلو افکارو باندې په غوره توګه مرور وکړی، څو له نا اړینې ښښنې غوښتلو څخه مخنیوی وکړئ، نو ډېره ښه ده لاس پکار شئ او دا یادښتونه په هرځای کې له ځان سره ولرئ. فکر مه کوئ چې کولای شی په یو مخیز ډول دې موخې ته ورسېږی، خو له لاملونو څخه خبرېدل به له تاسو سره ډېره زیاته مرسته وکړي، هرڅومره چې ډېر د خپلو چلندونو په اړه معلومات ولری، نو په ښه توګه کولای شی چې کنټرول یې کړی.

<u>نبیل:</u>

# طالبان د اقتصادي شریانونو د کنټرول هڅه کوي، خو حکومت پر ناسمو سیاسي معاملو بوخت دی

د ملي امنیت پخواني رییس رحمت الله نبیل یو ځل بیا پر حکومت نیوکه کړې، چې پر ناسمو سیاسي معاملو بوخت دی.
نبیل پر خپل ټویټر له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو وتلو ته په اشارې ویلي، چې طالبان د لویو لارو چې نوموړي اقتصادي شریانونه بللي، د کنټرول په هڅه کې دي، خو حکومت پر غلطو سیاسي معاملو بوخت دی.
هغه پر افغان سیاسیونو غږ کړی، چې روانه جګړه دي د ستراتېژیک او ژورلید له نظره وګوري او د ځان د غوښتنو پر ځای دې د هېواد د ژغورنې هوډ وکړي، ګنې د ده په وینا، د افغانستان ستونزې به لا



ډېرې شي. نوموړي دا څرګندونې وروسته تر هغې کوي، چې ټاکل شوې د روان کال د سپټمبر میاشتې تر ۱۱مې ټول بهرني ځواکونه له افغانستان څخه ووځي.
په ورته مهال امریکایي میلیټري ټایمز ورځپاڼې له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو وتلو ته په اشارې ویلي، چې ښایي له دغه هېواد څخه د امریکایي ځواکونو تر وتلو وروسته ګڼ تجهیزات د طالبانو لاس ته ولوېږي. ورځپاڼه کاږي چې له عراق څخه د ځواکونو تر وتلو وروسته تجربه شوې چې د امریکایي ځواکونو یو شمېر موټر او تجهیزات د داعش ډلې لاس ته ورغلي دي. ورځپاڼې د امریکایي چارواکو له قوله ویلي، چې دوی تر وتلو وروسته افغان ځواکونو ته د یو شمېر تجهیزاتو د ورکړې خبره کړې، خو ټینګار یې کړی چې افغان چارواکو دا ډاډ نه دی ورکړی چې یاد تجهیزات به د طالبانو لاس ته نه ورځي. په ورته وخت کې ورځپاڼې د یو شمېر امریکایي قانون جوړوونکو په حواله ویلي چې د ځواکونو تر وتلو وروسته یو شمېر داسې مسائل شته چې ګونګ پاتې دي او امریکایي حکومت یې تر اوسه په اړه دوی ته ډاډ نه دی ورکړی.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202510100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily



WAYGAL
PRINTING CO

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!

وایګل چاپ
WAYGAL Printing Co.

+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul



دوشنبه د ۱۴۰۰ د غبرګولي درېیمه | د ۲۰۲۱ د مي ۲۴مه | ۷۲۰مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۶ | ۳۳ | ۳۵ | ۳۳ | ۲۹ | ۲۵ |
| ۱۳ | ۱۹ | ۱۷ | ۲۲ | ۱۹ | ۱٦ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۰۵ | لمر ختل ۰٤:٤٥ | ماسپښین ۱۱:۵۱ | مازیګر ۰٤:٤۹ | ماښام ۰۹:۵٦ | ماخوستن ۰۸:۳۰


## نړۍ



**ملګري ملتونه: د غزې په ۱۱ ورځنۍ جګړه کې ۱۷زره استوګنځایونه ویجاړ شوي دي**

۳

## مک‌کنزي: په منځني ختیځ کې به پر امریکایي ځواکونو د بې پیلوټه الوتکو بریدونه ډېر شي



د منځني ختیځ لپاره د امریکایي ځواکونو قوماندان فرانګ مک‌کنزي وایي چې په را روانو کلونو کې به په عراق کې د ایران پلوو ملېشو د کوچنیو بې پیلوټه الوتکو بریدونه نور هم زیات شي.

نوموړی داسې مهال دغه خبره کوي، چې یوه میاشت مخکې په عراق کې په مېشتو امریکایي ځواکونو د بې پیلوټه الوتکې برید وشو. نوموړي ویلي، چې د دا ډول بریدونو مخه نیول، د هغوی لپاره لومړیتوب لري.

مک‌کنزي زیاته کړې چې امریکا باید د خپلو دښمنانو له لوري د دغو ډرون الوتکو د استعمال د مخنیوي نوري لارې چارې ولټوي. د هغه په خبره: «موږ جدي کار کوو چې داسې تخنیکي حل لار ولټوو چې د بې پیلوټه الوتکو پر ضد ډېره اغېزناکه وي.» په دغو لارو چارو کې د بې پیلوټه الوتکې او د کنټرول کوونکي ترمنځ یې د اړیکو پرې کول او د رادارا د څیرکو الو لا ښه کول شامل دي، چې د بې پیلوټه الوتکو په اړه چټک خبرداری ورکړي. د نوموړي په وینا، د فعالو الکترونیکي اغېزناکو لارو په موندلو هم کار روان دی، چې ډرون الوتکې په نښه کړي. مک‌کنزي زیاته کړې: «د مرکزونو احاطه کول او لوړې جالي (اغزنې کټارې) لګول هم ښایي د وقایوي اقدام په توګه په پام کې ونیول شي. موږ هر اقدام ته چمتو یو. پوځ په دې اړه ډېر جدي کار کوي، خو بیا هم موږ لا هغه ځای ته رسېدلي نه یو، چې غواړو ورسېږو.»

## قالیباف: د اټومي څارنې اداري او تهران هوکړه پای ته رسېدلې، نور د څار اجازه نه ورکوو

د ایران د پارلمان رییس محمد باقر قالیباف ویلي چې د ملګرو ملتونو د اټومي څارنې او تهران ترمنځ د څارنې درې میاشتنۍ هوکړه پای ته رسېدلې ده.

که څه هم د ایران او د نړۍ د زبرځواکونو تر منځ د اټومي تړون د ژغورنې لپاره ډیپلوماتیکې هڅې روانې دي، خو د قالیباف په دې خبرې سره ښایي کړکېچ لا زیات شي.

د ایران نیمه دولتي فارس خبري اژانس د قالیباف له قوله خبر ورکړی، چې ویلي یې دي، د مې له ۲۲مې نېټې وروسته به دغه نړیواله اداره اجازه ونه لري چې د دغې درې میاشتنۍ هوکړې له مخې په اټومي تاسیساتو کې دننه د نصب شویو کمرو له لارې معلومات راټول کړي. د ایران د پارلمان د رییس دغه څرګندونې د دې یوه بله نښه ده چې د متحدو ایالتونو او نورو پرمخ چې هڅه کوي له ایران سره یوې هوکړې ته ورسېږي، ور تړل کېږي.

د اټومي انرژۍ نړیوالې ادارې روانه اونۍ وویل چې له تهران سره په خبرو بوخت دي چې د څارنې د هوکړې پروسه څه ډول مخ ته یوسي. دغه هوکړه په ۲۰۱۷ میلادي کال شوې او له مخې یې دغې ادارې ویلي وو چې د ایران د اټومي موادو او تجهیزاتو دوه زره ځایونه یې مهر او لاک کړي دي.

## صلیب سرخ: شمار افراد دارای معلولیت در هرات ۵۰درصد افزایش یافته‌است



کمیتهٔ صلیب سرخ در هرات می‌گوید که شمار افراد دارای معلولیت که در اثر نبردها معلول شده‌اند، نزدیک به پنجاه درصد افزایش یافته‌است.

بربنیاد آمارهای این دفتر مددرسان، در چهار ماه پسین ٦۷ تن به‌شمول هشت کودک در جنگ‌ها در هرات معلول شده‌اند.

سید امید شایان، مسؤول مرکز ارتوپیدی کمیتهٔ صلیب سرخ در هرات گفت: «امسال متأسفانه ما رقم بالاتری به سال گذشته داریم که آمار می‌رسد به ٦۷نفر که شامل هشت کودک می‌شود.»

نورگل یکی از این افراد دارای معلولیت است که یک ماه پیش هردو پایش را در انفجار ماین جاسازی شده در کنار جاده در مسیر شاهراه هرات- کندهار از دست داد.

این قربانی جنگ، آرزو دارد تا صلح همیشگی در کشور برقرار گردد: «سه طفل دارم، مادر پیر دارم... تا به‌کی دربدری و خاک به‌سری؟ جنگ نکنیم دیگر بیایید صلح کنیم.»

عبدالملک که هنگام سربازی در ولسوالی بالامرغاب بادغیس در یک انفجار پایش را از دست داد، اکنون به کمک پای مصنوعی قدم می‌زند: «خداون به این کشور آرامی بدهد که دیگر جوانان خودرا از دست ندهیم.»

کسانی‌که در نبردها بخشی از وجود شان را از دست داده‌اند، از طرف‌های درگیر نبرد می‌خواهند به‌جنگ‌ها خاتمه دهند.


## ژوند

## له سبزۍ څخه ډېره ګټه اخیستل هم تاوان لري



د سبزیجاتو خوړل ډېرې زیاتې ګټې لري، خو که چېرته یوازې سبزیجات استعمال کړو، نو ډېر زیانونه هم لرلی شي، چې له دې زیانونو څخه روغتیایي کارپوهانو یو داسې زیان په ګوته کړی، چې ډېر د اندېښنې وړ دی. د میل انلاین د راپور له مخې، روغتیایي کارپوهانو د خپلې څېړنې په پایله کې ویلي، هغه کسان چې له حیواناتو څخه د تر لاسه کیدونکو توکو څخه په بشپړه توګه ځان ساتي او یوازې سبزیجات خوري، هډوکي یې دومره کمزوري کېږي چې د ماتیدو خطر یې د غوښه خوړونکو پر نسبت ۴۳ سلنه ډېر وي. راپور زیاتوي چې روغتیایي کارپوهان وایي، هغه کسان چې غوښه خوري، هډوکي یې د سبزیجاتو استعمالونکو په پرتله ۲.۳ سلنه لږ ماتېږي. په دې څېړنه کې د پنځه پنځوس زرو کسانو غذایي عادتونه تر څېړنې لاندې نیول شوي او د هډوکو پیاوړتیا یې په نظر نیول شوې او پایلې یې ورڅخه تر لاسه کړې.

## زي ټي اي د اېکسون لړۍ پیاوړي موبایلونه معرفي کړل



زي ټي اي کمپنۍ خپل د اېکسون۳۰ لړۍ درې پیاوړي ځیرک موبایلونه چې اېکسون۳۰، ایکسون۳۰ پرو او اېکسون۳۰ الټرا نومول شوي دي، معرفي کړل. اېکسون۳۰ الټرا کې د کوالکام کمپنۍ تر ټولو پیاوړی پروسېسر، سنپ ډراګن۸۸۸، کارول شوی او ۸ یا ۱۲ ګېګابایټ رم او ۲۵٦ ګېګابایټ د فایل ثبتوني ورتیا لرونکې بڼې لري. زي ټي اي کمپنۍ د دغه ځیرک موبایل یوه ایلیټ بڼه هم جوړه کړې، چې ۱٦ ګېګابایټ رم او ۱ ټېرابایت (۱۰۰۰ ګېګابایټ) د فایل ثبتوني ورتیا لري. دغه ځیرک موبایل کې ۴٦۰۰ ملي امپیره ورتیا لرونکې بېټرۍ ورکړل شوې، چې له ٦٦ واټ چټک چارج څخه هم ملاتړ کوي. که کاروونکي وغواړي ۹۰ هرتز یا ۱۲۰ هرتز ریفرېش رېټ هم انتخابولی شي. شاتنۍ برخه کې څلور کامرې لري چې له دغو څلورو څخه درې کامرې یې ٦۴ مېګاپکسله ورتیا لرونکې کامرې دي. د اېکسون۳۰ الټرا ۸ ګېګابایټ رم لرونکې بڼې بیه ۴۷۰۰ یوان، د ۱۲ ګېګابایټ رم لرونکې بڼې بیه ۵۰۰۰ یوان او د ۱٦ ګېګابایټ رم او یو ټېرابایت فایل ثبتوني ورتیا لرونکې بڼې بیه ٦٦٦٦ یوان ټاکل شوې ده.


کوچني او منځني سوداګریز پورونه

عزیزي بانک ستاسو د سوداګرۍ د پرمختګ او ودې لپاره کوچني او منځني پورونه په ډېرو اسانو شرایطو وړاندې کوي. ټول هغه افغان سوداګر چې درې فعاله پروژې ولري کولی شي دغه پور چې د بیا ادایني قسطونه یې د یو کال څخه تر دوه کلونو پورې کې ترسره کیږي، ترلاسه کړي.

www.azizibank.af 1515

عزیزي بانک
Azizi Bank